مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۱۲/۰۴

د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
شپږم ټوک

۳۰۵ پرله پسې برخه

کابل

او د افغانستان سویل – ختیځې

ایدیت:

ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **ګوهر دیش؟: ګاوهردیش؟**: [1]: ۲۴ – ۳۵، ۳۵ – ۷۱ «ن»: دا د کونړ د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې د «کیشور» [2] په شمال ختیځ کې یو کلی دی.

ګاو خانه: ۳۴، ـ ۶۹: دا د چاردهي په درې کې د چمچمه مست د اوبو د بهیر د سویلي څانګې د ښی غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې د کابل د ښار د لویدیځ په ۴ مایلی کې موقعیت لري. دا کلی ۶ کلاګانې لري او ټول ټال ۳۰۰ کورونه په کې دي. استوګن وګړي: ګدي هزاره ګان او تاجکان. دا ځای د ښیرازی یو ځای دی چې عمدتاً د شړشمو د تیلو په تولید کې ونډه لري، د خردل یا شړشمو تخم په لویه اندازه کې له هزاره جاتو راوړل کـیـږي. (آی. بي. سي)

---

[1] -GAOHARDISH : ما ژباړونکي ته دا نوم لرغونی نوم ښکاري چې خپله ریښه یا په پالي ژبی یا په سانسکریت کې لري او له «ګاو/ ګاون» څخه چې د کلي په معنی او «دیش» د ځای او ټاټوبي یا هیواد په معنی کیږي، ښایي په منځ کې ئـې د «هر» کلمه کومه لاحقه وي. همدې ورته موږ «ګردیز» لرو چې سانسکریت دی او شرحه ئـې په بلې پاڼې کې راځي؛ «ګهر» د غرهٔ او کور په معنی او «دیش» د ځای او ټاټوبي یا هیواد په معنی کیږي چې په اصل کې «ګهردیش» وو او وروسته ګردیز ته ئـې بدلون موندلی دی. یا موږ سید کرم لرو چې په اصل کې هماغه سیکارام وو. یا موږ د غزني او مقر تر منځ شش ګاو لرو چې لرغونی نوم دی. په سانسکریت کې «شج» د سوړ او «ګاون» د کلي په معنی دی یعني سوړ کلی او واقعیت دادی چې دا ځای په ژمي کې ډیر سوړ وي. – ژ

[2] -Kishur : دا نوم هم له سانسکریت څخه چې «کیشوره kishora » دی مشتق سوی دی چې د آس کوچني بچي او یا د نورو څارویو تنکي بچي ته ویل کیږي. - ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

گاومیش بـیـلـه: [3]: ۲۶ – ۳۴، ۳۰ – ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د بهسودو د علاقه داری یو کلی دی چې د کابل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د بهسودو د کلي د شمال لویدیځ په تقریباً ۳ مایلی کې موقعیت لري. استوګن وګړي: عربان. (جنکینز)

* **گاومیشک**: ۹ – ۳۳، ۵۵ – ۶۷ : دا د غزني په ولایت کې د «زرد آلو» په سویل ختیځ کې یو کلی دی.

* **گاو مرده:** ۶ – ۳۳، ۲۹ – ۶۷ «ن»: دا د جاغوري په سویل کې د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پر غاړه یو کلی دی.

* **گاو پور:** ۶ – ۳۴، ۳۵ – ۷۰ «ن»: دا د جلال آباد په سویل ختیځ کې د «سپین غر» [4] په لمن کې یو کلی دی.

گاو شک: دا د «بچـهٔ غلام دایزنګیانو» [5] یوه فرعي څانګه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور. دوهمه برخه)

* **گاره**: [6]: ۵۹ – ۳۲، ۵۳ – ۶۷ «ن»: دا د مقر – غزني د لویې د لویدیځ په ۲ مایلی کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د «آبِ ایستاده» شمال لویدیځې ژۍ ته نیـږدې په ۳۱ – ۳۲، ۵۰ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

گاړي: یا: ګړي: [7] : ۳۹ – ۳۲، ۴۱ – ۶۷ «ن»: دا د «غوجان» د سویل ختیځ په ۸ مایلی کې او د آبِ ایستاده په شمال لویدیځ کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د تګاب د سیند د غاړې په اوږدو کې د نجراب د ختیځ په څو مایلی کې په ۵۸ – ۳۴، ۴۹ – ۶۸ «ن» کې؛ «ناوه رود» [8] ته نیـږدې د «چهار توت» په سویل ختیځ کې په ۱۶ – ۳۴، ۴۹ – ۶۹ «ن» کې؛ د «الینګار» په سویل لویدیځ او د «کنده» [9] په لویدیځ کې په ۴۷ – ۳۴، ۱۶ – ۷۰ «ن» کې.

گربند کي: [10]: ۲۸ – ۳۴، ۴۹ – ۶۹ «ج»: دا له جلال آباد څخه تر «سنګ توده» پورې د سیند تر غاړې د تللي لارې په اوږدو کې یو ځای دی؛ له همدې ځایه د مبتادلو سرکونو لارې سره جلا کـیـږي. یوه لاره د «دبـیـلي د کوتل» [11] له لارې؛ بله لاره ئـې جګدلک ته د یاقوتو د کان له لارې تللې ده. د وروستۍ یادې سوې لارې سختوالی ډېـر نـهٔ دی، دا لاره په بشپړ ډول د بار وړونکو اوښانو د تګ لپاره پرته له دې چې د هوارولو لپاره ئـې اړین کارونه وسي مناسبه ده. دا لاره د «دبـیـلي د کوتل» په پرتلې ۳ مایله اوږده ده. (راس. تامپسن)

---

[3] -GAOMESH BELA
[4] -spin Ghar
[5] -Bacha -i- Ghulam Dai Zangis
[6] -GARA
[7] -GARAI Or GARI
[8] -Nawarud
[9] -Kanda
[10] -GARBAND KAI
[11] -Dabeli Kotal

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

گردن: ـ ۳۳، ـ ۶۶ : دا په آجرستان کي يوه سيمه ده. (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) په دې نوم نور ځايونه د «دشتِ باريکک» [12] په لويديځ او د «کوهٔ مير» [13] په شمال کي په ۶ ـ ۳۴، ۴۴ ـ ۶۷ «ن» کي او د بهسودو په سويل ختيځ کي په ۱۶ ـ ۳۴، ۵۵ ـ ۶۷ «ن» کي موقعيت لري. (لودويگ آدمک)

* **گردنک**: ۳ ـ ۳۴، ۲۳ ـ ۶۷ «ن»: دا د «گرمک» په لويديځ کي او د «درهٔ گرم آب» په شمال کي يو کلی دی.

گردن چتهه: وگورئ: فيراج [14]

گردن دِه: ۶ ـ ۳۴، ۱۵ ـ ۶۷ «ن»: دا د «پيتاو قول» [15] په شمال ختيځ کي يو کلی دی.

گردنِ مسجد: ۵۵ ـ ۳۳، ۲۵ ـ ۶۸ «ج»: دا د « سر ِ آب» [16] په درې کي د غزني د شمال لويديځ په تقريباً ۳۰ مايلۍ کي د دمې نيولو يو ځای دی. دلته د لوی ځواک د کمپ وهلو لپاره ځای سته چې په کافي اندازه اوبـهٔ هم لري. (آی. بي. سي)

گرديز: ۳۶ ـ ۳۳، ۱۴ ـ ۶۹ «ن»: گرديز د پکتيا د ولايت يو ښارگوټي او يوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۶۵۳ کيلومتر مربع مساحت لري او د وگړو شمـيـر ئـې د ۲۱۹۸۰ او ۳۵۳۹۰ تنو ترمنځ چې بزگري پرگنې دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لويديځ لوري له زرمت، له شمال لويديځ او شمال لوري له چرخ او پل علم، له ختيځ لوري له سيد کرم او له سويل لوري له «شاوک/ شوک» [17] سره کرښه لري. گرديز تقريباً ۴۲ کلي لري چې ۲۰ کلي ئـې له ۵۰۰ ډېـر استوگن وگړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندي ډول ليست کړي دي:

درهٔ ملا		قدرت		کرماشي	Karmashi	ميلان	Melan
زا آو	Za Aw	هوته ماني سپاهي خيل	Hutamani Sepahi -Khel	بالا دِهٔ گرديز	Bala Deh Gardiz	تـيـراه	Tirah
سالو خيل		رباط		چاونۍ		ابراهيم خيل	
اسلت بيگ خيل	Aslat Beg Khel	آهنگران		بازار کهنه		متفرقـهٔ بين بازار	
قريـهٔ زيړی	Qarya -i- Ziyari	خانـهٔ شهر ِ پهلوی بالاحصار		شکر خيل	Shakar Khel	حسن خيل	
سر ِ سنگ	Sar -i -Sang	نائـب خيل		دولت زي		شيخ ها	Shaikhha
ملک خيل		کوچي خيل		حبيب و حاجيان		حبيب و ميلان	
همراه ـ ی- بالا دِهٔ		خطابـهٔ گرديز		خواجه گرديز		دره	
فتح الله خيل		سيد های شاه افضل		موگراب	Mugarab	دو آبـهٔ ميلان	
حاجيان		نجاران		سادات		اجرل خيل	Arjal Khel
بنو زي		داخلِ حوزهٔ شهر		فاميل های شهر ِ نو		شو زي	Shozai
روجان خيل ِ گرديز	Rojan Khel - i- Gardiz	سيد خيل		مؤمن خيل		جمال الدين کلا	

[12] -Dasht -i- Barikak
[13] -Kuh -i -Mir
[14] -GARDAN CHATHA See FIRAJ
[15] -Pitaoqol
[16] -Sar -i -Ab valley
[17] -Shawak

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بلوڅ خيل	بايک خيل	Bayak Khel	سلام خيل	
(لودويگ آدمک)				

گردیز په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی: دا یو بنسټیز ځای او د زرمت ملکي اداري مرکز دی. دا ځای د کورم له درې څخه تر غزني پورې د سړک د غاړې په اوږدو کې له «خرلاچي» [18] څخه ۶ مارشه «تقریباً ۷۰ مایله ؟» او د «التیمور د کوتل» [19] له سویل ختیځ څخه تقریباً ۱۴ مایله لیرې موقعیت لري. د التیمور د کوتل له پاسه د لوګر درې ته او کابل ته لاره تللې ده. دا لاره په ترتیب سره د کورم له درې څخه تر کابل او غزني پورې د لویو لارو تر منځ مهم څنګیز یا جانبي ارتباط جوړوي.

گردیز هغه ښارګوټی دی چې ۳۰۰۰ کورونه لري، استوګن وګړي ئې اکثریت تاجیکان دي او یو لږ شمېر غلزي هم لري؛ په گردیز کې یو لوی بازار سته. دلته هر ډول غلات تولیدېږي چې د کابل مارکیټ ته لېږدلو کېږي؛ غوړي هم په لویه اندازه کابل ته لېږل کېږي. په کورنیو څارویو کې یوازې لږ شمېر ئې کابل ته استول کېږي خو د پسونو ستري رمې ډېرې لېږل کېږي. د دغو اقلامو په بدل کې له کابله ممیز، توت، تنباکو، پیاز او کتان ټوکران راوړل کېږي. دلته په گردیز او گاوندې کې ئې له وزیري نسل څخه د آس د نسل اخیستنې او روزنې لوی کار وبار دی .

په دې ښارګوټي کې دوه استحکامي کلاګاني سته، زړه کلا کې خاصه داران اوسېږي او په نوې کلا کې ئې د پوځ سرتېري اوسېږي. د گردیز په ټول ګارنیزیون کې د سپارهٔ ځواک یوه رساله، د پلي ځواک دوې لیوا ګاني، ۴ غرني توپونه او ۳۰۰ خاصه داران دي.

په گردیز کې د یوې فرقې لپاره د کمپ وهلو ځای سته چې پریمانه اوبهٔ لري؛ علوفه باب هم تر لاسه کیدای سي خو نور د اړتیا وړ توکي باید راټول سي. د دې تر څنګ د خرلاچي – غزني تر منځ پر سړک سر بیره چې پورته ئې یادونه وسوه له گردیز څخه تر کابل پورې د التیمور د کوتل له لارې یو سړک هم تللی دی. ویل کېږي چې افغان صحرایي بطریې دائماً په همدې لاره تګ راتګ کوي، خو د المتیور د کوتل له سره د کوزیدلو شمالي برخه ئې کار ته اړتیا لری چې د عرابه لرونکو وسایطو د تګ لپاره حقیقتاً مناسبه لاره وګرځي. ویل سوي چې یوه بله لاره چې د صحرایي توپونو د وړلو لپاره مناسبه ده د «شلګهر» [20] له لارې له گریز څخه مقر ته تللې ده. (آی. بي. سي)

* **گرگاو**: [21]: ۱۳ – ۳۴، ۱۵ – ۶۹ «ن»: دا د لوګر د سیند د ختیځ په تقریباً ۸ مایلی کې د کابل په سویل کې یوکلی دی.

18 -Kharlachi
19 -Altimur pass
20 -Shilghar
21 -GARGAO

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

گرگرح: [22]: دا په لغمان کې یو کلی دی چې دوه کوچني کلي لري چې د «کانسي گر» [23] او «قلعـهٔ سرفراز خان» د کلیو په نومونو یادیـږي. د کلي استوګن وګړي: صافیان. (وار برتن)**گړي**: یا: ګاړي: [24]: ۴۷ – ۳۴، ۱۶ – ۷۰ «ن»: دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه داری کې یو کلی دی چې د مهمندو ۳۰۰ کورونه په کې دي. (مک گریگر) په دې نوم یو بل ځای د «چغه سرای» په شمال لویدیځ کې په ۴۷ – ۳۴، ۵۶ – ۷۰ «ج» کې موقعیت لري. (لودویگ آدمک)

گري: [25]: دا د جاغوري هزاره ګانو له اساسي ټبرونو څخه یو ټبر دی. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

گرم آب: ـ ۳۳، ـ ۶۸: دا د چرخ د درې په سر کې د لوګر د ولسوالي په سویل کې یو کلی دی چې په دې درې کې د مهمو ځایونو په منځ کې یو مهم ځای دی. استوګن وګړي: تاجیکان. (ملک لین، ایوان سمیت)

گرمک: ـ ۳۴، ـ ۶۸: دا د تیموري د قبیلې د ۲۰ کورنیو یو کلی دی چې د «سر- ی- چشمه» په درې کې د «اونی د کوتل» د ختیځ په ۶ مایلی کې موقعیت لري. «په ۱۹۰۴ز کال کې» د کلي ملک دولت محمد نومیدهٔ. کلیوال ۳۰ غواګانې او ۴۰ پسونه او وزې لري. د کلي د غنمو او وربشو د کلني تولید اندازه په منځنۍ کچې نیـږدې ۳۷۵ هندي مونده ده. (ونلیس) په دې نوم یو بل کلی د «شهر – ی- خوات» [26] په لویدیځ کې په ۵ – ۳۴و ۵۵ – ۶۷ «ن» کې؛ او د «کوهٔ غل پریده» [27] په سویل کې په ۳ – ۳۴، ۲۷ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري. (لودویگ آدمک)

گرم آو: ـ ۳۴، ـ ۶۷ : دا په بهسودو کې یو ځای دی. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) په دې نوم یو بل ځای په ۲۱ – ۳۴، ۶ – ۶۸ «ن» کې موقعیت لري. (لودویگ آدمک)

گرم آو: ـ ۳۴، ـ ۶۶: دا د «سر ِ جنگل» د ولسوالي یوه علاقه داري ده. . (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

گرم آو: دا د کابل – دولت یار ترمنځ سړک د غاړې په اوږدو کې د دایزنګیانو یو لوی کلی دی. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

گرم آو ِ جیرغي: [28] : دا په هزاره جاتو کې یو سیند دی. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

* **گرمیله**: [29] : ۳۴ – ۳۴، ۴۷ – ۷۰ «ن»: دا د کونړ د سیند او د « نور گـَـل» ترمنځ د سویل په څو مایلی کې یو کلی دی.

22-GARGARH
23 -Kansigar
24 -GARI Or GARAI
25 -GARI
26 -Shahr -i- Khawat
27 -Kuh -i- Ghulparida
28 -GARMAO- I -J I RGHAI
29 -GARMILA

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **گوي**: [30]:گاوي؟ -ژ : ۸ – ۳۵، ۲۲ – ۷۱ «ن»: دا د کونړ د سیند د غاړې په اوږدو کې د «بارگام» [31] په مخالف لور کې یو کلی دی.

گزه: یا: غازه: [32]: ۳۸ – ۳۴، ۵۹ – ۶۸ «ن»: دا په کوهدامن کې د کابل د ښار د شمال لویدیځ په ۱۵ مایلی کې یو کلی دی. د دې ځای په گاونډ کې بې شمـیـره غونډۍ یا تپې دي. استوگن وگړي ئـې تاجیکان دي چې په ۱۸۸۰ز کال کې دلته ۱۰۰ کورونه ول. (میسن، کین لاچ)

گزک: دا په هزاره جاتو کې یو ځای دی. (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) په دې نوم نور ځایونه د جگدلک په سویل ختیځ کې په ۲۲ – ۳۴، ۵۴ – ۶۹ «ن» کې او د «شملتود خوړ د غاړې په اوږدو کې په ۴۰ – ۳۳، ۸ – ۶۸ «ن»کې؛ او د «سرخ شهر» [33] په سویل کې په ۱۶ – ۳۵، ۴۵ – ۶۷ «ج» کې موقعیت لري. (لودویگ آدمک)

گزر: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د لوگر په ولسوالي کې د «کوټي خیلو» او «دۀ نو» تر منځ یو کلی دی. دا کلی دوه کاریزونه لري چې ځمکه ئـې ډېـره ښه کرل سوې ده. غلات ئـې پریمانه دي. کلی پسونه نـۀ لري. استوگن وگړي: احمد زی غلزي. (آی. بي. سي)

گز دره: [34]: ۵۴ – ۳۲، ۲۵ – ۶۸ «ن»: دا د غلزیو په سیمې کې د غرونو یوه لړۍ ده. (براد فوټ)

گزیک: [35]:۳۰ – ۳۴، ۲۶ – ۶۹: دا د «ډاگ» او د حق العبور یوه پوسته ده چې د بتخاک د ختیځ په ۵ مایلۍ کې د پـېـښور – کابل د عمومي سړک د غاړې په اوږدو کې موقعیت لري. (ونلیس)

* **گزِ علیاء:** ۴۷ – ۳۴، ۵۰ – ۶۹ «ن»: دا د سروبي په شمال ختیځ کې د «وزبین له خوړ» [36] څخه تقریباً ۲ مایله لیرې یو کلی دی.

گِـهار: [37] : دا د منگلو د قبـیلې یوه ځانگه ده چې د «تغان»، «لنگر»، «کلا»، «سیرکوټ» او «نصیر محمد» [38] په کلیو کې د سپین غر په شمالي ډډو کې چې د سرخاب د سیند یوه ځانگه ده استوگن دي. (کولت)

گیري: [39]: دا د جاغوري هزاره گانو یوه ځانگه ده. (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

غدکي: [40]: ۳ – ۳۴، ۳۱ – ۶۷ «ن»: دا د «سفید آب» [41] په سیمې کې په «درۀ گرم آب» [42] کې یو کلی دی.

---

30 -GAWI
31 -Bargam
32 -GAZA Or GHAZA
33 -Surkhshahr
34 -GAZ DARA
35 -GAZIK
36 -Wozbin Khwar
37 -GEHAR
38 -Taghan, Langar, Kala, Sirkot, and Nasir Muhammad
39 -GERI
40 -GHADAKI
41 -Safidab
42 -Dara -i- Garmab

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

غف: غاف - ژ: [43] : دا په دای زنګي کې یوه سیمه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

* **غیبانه**: ۵۹ ـ ۳۳، ۳۲ ـ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د لوګر پولې ته نېږدې یو کلی دی.

غیبي: قلعـهٔ غیبي ـ ژ: ۳۴، ـ ۶۹: دا په چاردهي کې یو کلی دی چې د کابل د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې د «ګذر ګاه» او «ایندا کي» [44] تر منځ موقعیت لري. دې کلي کې د تاجیکانو تقریباً ۸۰ کورونه دي، دا کلی په دیوالونو کې محصور دی چې ۶ برجونه لري او یوازې د دیوال په لویدیځ مخ کې یوه دروازه لري. (آی. بي. سي)

* **غیبي خیل**: ۱۷ ـ ۳۲، ۴۱ ـ ۶۷ «ن»: دا د «سکندر خیلو» [45] په سیمې کې د آب آیستاده په سویل لویدیځ کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د «یحیی خیلو» د علاقه دارۍ د مرکز د شمال لویدیځ په څو مایلۍ کې په ۲۷ ـ ۳۲، ۳۸ ـ ۶۸ «ن» کې موقعیت لري.

غین ـ ګریجان: [46] : دا یو کلی دی چې د پنجشیر د سیند د درې د یو څانګې د غاړې په اوږدو کې چې د «پهنه» [47] د سیند په نوم یادېږي، د کابل د شمال ختیځ په ۵۴ مایلۍ کې موقعیت لري او ۱۰۰ کورونه لري چې استوګن وګړي ئې پشه ییان دي. (لیچ)

غینِ ـ ی- بالا: [48]: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د پنجشیر په درې کې، له کابل څخه ۶۵ مایله لیرې یو کلی دی چې د پشه ییانو ۳۰ کورونه لري. د دې کلي اوبـهٔ د «غینِ پائین» [49] د اوبو له بهیر څخه دي چې پریمانه دي او غین پائین ۱۰۰ کورونه لري. (لیچ)

غاجي: [50]: ـ ۳۵، ـ ۶۹: دا د پنجشیر د منځغري په بر سر کې له «انابي/عنابي» څخه ۸ مایله پورته یو کلی دی چې د سیدانو ۴۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (شهزاده تیموس)

غالنګ: غرنګ: [51]: ۲۷ ـ ۳۳، ۵۰ ـ ۶۹ «الف»: دا په «کـُش» [52] کې یو منځغری یا میان کوه دی چې د «متون» په شمال لویدیځ کې واقع ده، متون د اوبو د هغـهٔ بهیر په اوبو خړوبېـږي چې د «غالنګ» له تنګي څخه رابهېـږي. استوګن وګړي ئـې منګل دي چې د ۱۸۷۹ز کال په پیل کې ئـې د جنرال رابرتس ځواکونو ته سرخوری پیدا کړ. (آی. بي. سي)

* **غلغو**: غلګو: [53]: ۸ ـ ۳۴، ۷ ـ ۶۷ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په سویل کې د هلمند د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

---

43 -GHAF
44 -Guzargah and Indaki
45 -Sikander khel
46 -GHAIN -GRAIJAN
47 -Pahna river
48 -GHAIN -I -BALA
49 -Ghain -i -Pain
50 -GHAJI
51 -GHALANG
52 -Kus h
53 -GHALGHO

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **غالي خيل:** [54]: ۱۷ – ۳۳، ۴۶ – ۶۸ «ن»: دا «رود ِ جلگـۀ جنوبي» [55] ته نېـږدې د «سر دِه د بند» [56] په ختيځ کې يو کلی دی.

غندي: [57]: ـ ۳۳، ـ ۶۹: دا د «ايستيار کوتل» [58] په ختيځ کې يو کلی دی. په دې نوم يو بل کلی په ۵ – ۳۳، ۲ – ۶۸ «ن» کې موقعيت لري. اوسنۍ نقشې د «غونجي» [59] نوم په ۴۰ – ۳۳، ۵۹ – ۶۹ «ن» کې ښيي. (لودويگ آدمک)

غندک: [60]: ۵۹ – ۳۴، ۱ – ۶۸ «ن»: دا يو دنگ غر دی چې د «کوۀ گلستان» [61] په نوم هم يادېـږي، دا غر د باميانو د درې په شمالي اړخ کې غځيدلی دی چې باميان له سيغانو څخه راجلا کوي. دا يو اوږد، مدور غر او د ډبرو يوه ستره کتله ده، د دې غرۀ سر د درې په سويل کې د اساسي غرني لړۍ له څوکو څخه ټيټ دی، د ۱۸۸۵ز کال کې د اکتوبر په مياشت کې دا څوکه په واورو پوښلې وه. د «کوۀ غندک» مهميزونه په سويل کې ډېـر ډبرين دي خو پورتنۍ ډډې ئـې د ختلو لپاره آسانه دي. خو له همدې آسانۍ سره سره بيا هم يوه يا دوې سختې لارې له دې ځايه سيغانو ته تللې دي. (وگورئ: تر ۱۱ منزل پورې ياد داشتونه: ۳۲ لاره، د افغانستان شمال ختيځ) غرنۍ سړک پورته د درې ته لويديځ لور ته تللی چې شمال ته تاوېـږي او ځان د غرۀ لوړې برخې ته رسوي. (ميتلند)

غند ِاورياخيل - ژ: غند ِ اراخيل: [62]: دا د لغمان په ولسوالي کې د اليشنگ د سيند د ښۍ غاړې په اوږدو کې يو کلی دی چې د «دِۀ زيارت» د لويديځ په تقريباً ۱ مايلۍ کې موقعيت لري. استوگن وگړي: اورياخيل غلزي. (واربرتن)

* **غني خيل**: ۱۲ – ۳۴، ۴۹ – ۷۰ «ن»: دا د «باسَوَل» په سويل لويديځ کې د جلال آباد – تورخم د سړک د سويل په ۴ مايلۍ کې يو کلی دی.

غـــوچ: غاوچ: [63]: ۴ – ۳۴، ۳۹ – ۶۷ «ن»: دا د «کوۀ خشکک» [64] په ختيځ کې د گرم آب د يوې څانگې د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی.

غاو گردن: وگورئ: آو گردن [65]

غاو غيزه: وگورئ: غوغيزه [66]

---

54 -GHALIKHEL
55 -Rud- i- Jelga -i- Janubi
56 -Sardeh Band
57 -GHANDAI
58 -Istiar Kotal
59 -Ghunjay
60 -GHANDAK
61 -Koh -i- Gulistan
62 - GHAND- I -URA –KHEL : دا بايد GHAND- I -URIA –KHEL وي چې په انگليسي متن کې ئـې يوازې د (I) تورۍ له پاده وتلی دی. او د همدې نامـۀ مخې ته ئـې په غلطۍ سره «اراخيل» ليکلي چې تيروتنه ده ځکه په خپله متن کې وايي چې دلته «اورياخيل غلزي» استوگن دي.- ژ
63 -GHAOCH
64 -Kuh -i- Khushkak
65 -GHAO GARDAN See AOGARDAN
66 -GHAO GHIZA See GHAUGHIZA

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

* **غاره**: [67] : ۸ – ۳۳، ۳۷ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د ارغنداب د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د غزني د ولایت په شمال کې د «شهر ِ خوات» په شمال لویدیځ کې موقعیت لري.

غرک: غرک علیاء: ۲۲ – ۳۴، ۱۱ – ۶۷ «ن»: دا یو آسانه شانته کوتل دی چې د بامیانو د ولسوالي په لویدیځ کې له «قرغنه تو تګاو» [68] څخه لاره وربانديې تـېـرېـږي او په یک ولنګ کې «تبرغان قول» [69] ته تللې ده. (اې. بي. سي). دا «غرک ِ علیاء» [70] دی. اوسنی نقشې د «قرک» [71] نوم په ۴۳ – ۳۴، ۱۹ – ۶۷ «ن» کې ښیي. (لودویګ آدمک)

غرک: ـ ۳۴، ـ ۶۷: دا د خوات د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د «غازي مند»[72] د شمال لویدیځ په تقریباً ۵۳ مایلۍ کې د «دیوال قول» [73] د سویل ختیځ په ۲۰ مایلۍ کې د دمې نیولو یو ځای دی. دلته د یوې لیوا لپاره د کمپ وهلو ځای سته چې له سیند څخه پریمانه اوبـهٔ لري، دا سیند ۳۰ فیټه ارت او ۲ فیټه ژور دی او توند بهاند سیند دی. دلته د سیند له پاسه یو لرګین پل هم تـېـر سوی دی خو پرته له هغې هم له سیند څخه پورې غاړه اوښتل شوني دي. (آی.بي. سي) په دې نوم یو بل ځای په ۸ – ۳۴، ۲۴ – ۶۸ «ن» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

غرک: ـ ۳۳، ـ ۶۹: دا د ګردیز د شمال ختیځ په تقریباً ۲۶ مایلۍ کې د هغـهٔ سړک د غاړې په اوږدو کې یو نسبتاً لوی کلی دی چې د میرزکې کوتل ته ځي. استوګن وګړي: «امازي غلزي» [74] په دې نوم یو بل ځای په ۱۱ – ۳۴، ۵۱ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

غرغه: [75]: دا یوه ډبرینه دره ده چې د «زکاک ؟ - ژ/ زهاک/ ضحاک؟ - ژ» [76] په تقریباً ۳ مایلۍ کې د «کالو» [77] منځغري یا میان کوه سره نښلي. د دواړو درو د یو ځای کیدنې په ټکي کې د «دهان ِ غن غا» [78] کلی دی چې د «درغان هزاره ګانو» [79] ۱۳ کورنۍ په کې استوګنې دي؛ دلته د کمپ وهلو لپاره نسبتاً ښه ځای سته. (امین خان)

نور بیا

غرغر: دا یو کلا واله کلی دی چې...

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولې برخې لوستی شئ.

---

67 -GHARA
68 -Karghanatu Tagao
69 -Tabarghan Kol
70 -Gharak -i -Ulya
71 -Qharak
72 -Ghazimand
73 -Diwal Kol
74 -Amazai Ghilzais
75 -GHARGHA
76 -Zokak
77 -Kalu
78 -Dahan -i -Ghangha
79 -Darghan Hazaras

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ